# معلوماتي پمفلټس

پښتو



شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

# معلوماتي پمفلټس

دعائے عطار: يا ربِّ مصطفٰی، څوک چې دا رساله ”معلوماتي پمفلټس“ اولولي که واوري. هغوئي ته خپل ټول ژوند په نيکو کښې د تيرولو او د نيکۍ دعوت عام کولو توفيق عطا کړې او هغوئي بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك: مسلمان چې تر څو په ما دُرُود شريف لولي فرښتې په هغه رحمتونه راليږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي او که زيات۔

﴿ابن ماجه، 1/490، حديث: 907﴾

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه انداز کښې د نفس کړِفت

حضرت سيّد ابو محمد مُرتَعِش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”ما ډير حجونه کړي دي او په دې کښې مې زياتره د حج سفر د هيڅ قسمه زادِ راه (يعني سفر کښې د استعماليدونکو څيزونو) نه بغير کړے دے۔ بيا دا خبره په ما ښکاره شوه چې دا ټوله خو زما د نفس

دهوکه وه ځکه چې يو ځل زما مور ماته د اوبو د ډک منګي راوړلو حکم اوکړو نو زما په نفس دا حکم بوج اوليږيدو، نو زه پوهه شوم چې د حج په سفر کښې زما نفس زما مُوافَقَت صرف د خپلې مزې اخستو د پاره اوکړو او زه ئې په دهوکه کښې اوساتلم ځکه که چرې زما نفس فَناء شوے وے نو نن به په يو شَرعي حقِّ پوره کولو کښې (يعني د مور خبره منلو کښې ) ده (يعني نفس) دومره زياته سخته ولې محسوسوله!"

﴿رساله قشيريه، ص135﴾

## د حُبِّ جاه (يعني د مشهورتيا او عزَّت) مزه د عبادت خواري آسانوي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! زمونږه بُزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به څنګه ديني سوچ لرلو او څومره عاجزي به ئې عادت وه! د بعضو خلقو عادت وي چې هغوئي د عامو خلقو سره خو په ټيټه ټيټه ميلاويږي او د هغوئي د پاره ځان (سم په زمکه ) غوړوي خو د مور پلار، خوئيندو ورونړو او بال بچ سره د هغوئي رويه سخته، غير اخلاقي او بعضې وخت ډيره زړه آزاروونکې وي، ولې؟ ځکه چې خلقو کښې د ښه اخلاقو ښرګندونه د مشهورتيا وجه جوړيږي، خو کور کښې د ښه سلوک کولو سره د عزّت او مشهورتيا ميلاويدو څه خاص طمع نه وي، ځکه دا خلق په عوامو کښې ځان ډير خوَږَوي، دغه شان چې کوم اسلامي ورونړه د بعضې مُستَحب کارونو د پاره زياتې قربانئ وړاندې کوي خو فرضو او واجبو ادا کولو کښې بے خيالي کوي مثلاً د مور پلار تابعدارئ، د بال بچ د شريعت مطابق تربيت او د ځان د پاره په فرض عِلمونو حاصلولو کښې د غفلت نه کار اخلي د هغوئي د پاره هم په دې حکايت کښې ډير اهم مدني ګل

دے- حقيقت دا دے چې په کومو کارونو کښې ”مشهورتيا او واه واه کيږي“ هغه ګران وي خو بيا هم په آسانئ سره کولے شي ځکه چې د حُبِّ جاه (يعني د مشهورتيا او عزَّت خواهش) په وجه ميلاويدونکې مزه د ګرانو نه ګران کار آسانوي- ياد ساتئ! په ”حُبِّ جاه“ کښې صرف هلاکت دے- د عبرت د پاره د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامين اوګورئ: ﴿1﴾ د الله پاک طاعَت (يعني عبادت) د بنده ګانو له خوا د کيدونکې تعريف د محبت سره د ميلاوهلو نه ځان بچ کوئ، چرته ستاسو عملونه برباد نه شي- ﴿فردوس الاخبار، 1/223، حديث: 1567﴾ ﴿2﴾ دوه اوږي ليوان د چيلو په رَمَه کښې دومره تباهي نه کوي څومره تباهي چې حُبِّ مال او جاه (يعني مال او دولت او د عزّت او مشهورتيا محبت) د مسلمانانو په دين کښې کوي- ﴿ترمذی، 4/166، حديث:2383﴾

## د حُبِّ جاه په باره کښې ډير اهم مدني ګل

”د حُبِّ جاه“ د تعلق سره د اِحياءُ العلوم دريم جلد نه څه مدني ګلونه وړاندې کوو: ”(حُبِّ جاه او رِيا) د نفس هلاکت کښې د غورځولو آخري چارو او د باطِني مَکر او فَريب نه ده، په دې کښې عُلَماء، عبادت کوونکې او د آخِرت منزل ته رسيدونکې خلق اخته کولے شي- داسې خلق بعضې وخت ښه کوششونه اوکړي او په عبادتونو کولو، په نفساني خواهشاتو قابو موندلو بلکه د شکمن څيزونو نه هم ځان بچ کولو کښې کامياب شي، خپل اندامونه د ظاهري ګناهونو نه هم بچ کړي خو د خلقو په مخکښې د خپلو نيکو کارونو، ديني کارنامو او د نيکئ دعوت عام کولو د پاره د کړو کوششونو (لکه چې ما دا اوکړل، هغه اوکړل، هلته بيان وو، دلته بيان دے، د بيانونو د پاره دومره دومره تاريخونه ”بُک (يعني نيولے شوي)“ دي، مدني مشوره کښې دومره شپه تيره شوه او د آرام

نه کولو په وجه سترې یم ځکه مې آواز ناست دے- مدني قافله کښې سفر دے، په دومره دومره مدني قافلو کښې یا د دیني کارونو د پاره فلانکو فلانکو ښارونو، ملکونو ته مې سفر کړے دے وغیره وغیره) د اظهار په ذریعه خپل نفس ته د آرام ورکولو طلبګار وي، د خپل علم او عمل ظاهرولو سره په مخلوق کښې مشهورتیا او د هغوئي د طرف نه کیدونکے عزت، واه واه او د عزت نه مزه اخلي، کله چې ورته دا مشهورتیا میلاؤیږي نو د هغه نفس غواړي چې علم او عمل ډیر زیات ظاهریدل پکار دي چې نور مې هم عزت زیات شي ځکه هغه د خپلو نیکو، علمي صلاحیتونو په تعلق د مخلوق د خبرولو نورې لارې لټوي او د خالِقِ کریم په اِطلاع باندې (چې زما رَبّ زما د عملونو نه ښه خبر دے او ما له اجر راکوونکے دے په دې باندې) قناعت (یعني صبر) نه کوي بلکه په دې خبره خوشحالیږي چې خلق د هغه واه واه او تعریف اوکړي، د خالِقِ کریم له خوا په حاصِلیدونکي تعریف صبر نه کوي، نفس په دې خبره ښه پوهیږي چې خلقو ته کله د دې خبرې پته اولګي چې فلانکي بنده نفساني خواهشونه پریښودي دي، د شک نه ځان بچ ساتي، د الله پاک په لاره کښې ښه ډیرې پیسې لګوي، په عبادتونو کښې ډیره خواري کوي (خوفِ خدا او عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ډیر فریاد کوي او اوښکې بهیوي، ډیر دیني کارونه کوي، د خلقو د اصلاح ورسره ډیر غم وي، په مدني قافلو کښې ډیر سفر کوي، په بل ئې کوي، ژبې، سترګو او خیټې ته د مدینې تالا لګوي، هره ورځ د فیضانِ سُنَّت دومره دومره درسونه ورکوي، مَدَرسۃُ المدینه (بالغان)، د سحر د لمونځ د پاره د پاڅولو، د علاقائي دورې ډیره پابندي کوي) نو د هغوئي په ژبو به د ده ډیره ستائینه کیږي، هغوئي به ورته ډیره په درنه سترګه او احترام ګوري، د ده ملاقات او زیارت به د ځان د پاره سعادت او د آخرت سرمایه ګڼړي، د

برکت حاصلولو د پاره به کور او دکان کښې د دوؤ قدمونو ایښودو، دعا کولو، چائے څکلو، د خوراک بلنې قبلولو د پاره ډیر په عاجزئ سره خواستونه کوي، د ده په لاره باندې تګ به د دواړو جهانونو خیر ګڼړي، دا چې چرته هم ویني خدمت به ئې کوي او سلام به عرض کوي، د ده د جوتې خوړلو او ښښلو حِرص به کوي، د ده ډالئ یا د ده د لاس سره لګیدلي څیز کښې به سبقت (وړاندې والے) کوي، د ده له خوا ورکړے شوے څیز به ښکلوي، د ده لاسونه او ښپې به ښکلوي، اِحتِراماً به "حضرت! حُضُور! یا سیِّدي!" وغیره القاباتو سره په مزه مزه خبرې کوي، د لاس جوړه کولو سره به سر ټیټوي او د دعاګانو د پاره به خواست کوي، محفلونو ته د ده په راتلو به تعظیماً اودریږي، دا به د ادب په ځائے کښې ګڼړي، لاس په نامه به ده ته ولاړ وي، د ده نه مخکښې به خوراک نه شروع کوي، په عاجزئ سره به ډالئ او نذرانې وړاندې کوي، په عاجزئ به خپل ځان د ده په مخکښې وړوکے (مثلاً خادِم او غلام) څرګندوي، په اخستو او خرڅولو او معاملو کښې به د ده مُرَوَّت (یعني مخ ملازه) کوي، ده له به د ښه معیار څیزونه او هغه هم ارزان یا مفت ورکوي، د ده په کارونو کښې به د ده عزّت کوي او سر به ټیټوي- د خلقو د داسې عقیدت نه ډک انداز سره نَفس ته ډیر زیات خوند میلاویږي او دا هغه خوند دے کوم چې په ټولو خواهشونو غالِبه دے، د داسې عقیدت ساتلو د مزې په وجه ګناهونه پریښودل هغه ته معمولي خبره ښکاري ځکه چې د "حُبِّ جاه" په مریض نَفس د ګناه کولو په ځائے اُلټا پوهه کوي چې ګوره که ګناه کوې نو عقیدت لرونکي به درنه مخ واړوي! ځکه د نَفس په مرسته په مُعتقِدینو کښې د خپل عزت برقراره ساتلو د جذبې په وجه د استِقامت سخته نرمي او آساني محسوسیږي ځکه چې هغه باطِني طور د مزو نه مزې او د ټولو شَهواتو (یعني خواهشونو نه لوئي شَهوت (یعني د

عوامو د عقیدت نه حاصِلیدونکي مزې) پیژندګلو کولے شي، هغه په دې خوش فهمئ کښې پریوځي چې زما ژوند د الله پاک د پاره او د هغه د خوښې مطابق تیریږي، حالانکه د هغه ژوند د هغه پټ (حُبِّ جاه یعني د خپلې واه واه غوښتو پټ) خواهش لاندې تیریږي په کومې چې د پوهیدو سره ډیر مضبوط عَقلونه هم عاجِزه او بے وسه دي، هغه د الله پاک په عبادت کښې خپل ځان مُخلِص او خپل ځان د الله مَحارِمِ (د حرام کړے شوؤ معاملو) نه پرهیز کوونکے ګڼړي، حالانکه داسې نه ده هغه خو د خلقو په مخکښې د ډَوَل او سینګار په ذریعه ښه مزې اخلي، هغه ته چې کوم عزّت او مشهورتیا میلاویږي په هغې ډیر خوشحاله دے- دغه شان د عِبادتونو او د نیکو د کارونو ثواب ضائع کیږي او د ده نوم د منافقانو په فهرست کښې لیکلے شي او هغه نادانه دا ګڼړي چې هغه الله پاک ته نزدې دے!" ﴿احیاء العلوم،3/338بتصرف﴾

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی

﴿وسائلِ بخشش،ص78﴾

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب_❀❀❀_صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## په فون یا مخامخ د خبرو شروع کولو نه مخکښې ۴۰ نیتونه

(په دې کښې د موقعې په مناسبت سره د دریو څلورو نیتونه خو اوکړئ)

﴿1﴾ تر خپله وسه پورې نظر ښکته ساتئ ﴿2﴾ د ښه نیت سره سلام کښې وړومبے والے کوئ ﴿3﴾ د سلام جواب ﴿4﴾ صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد ﴿5﴾ د طبیعت پوښتنه ﴿6﴾ که هغه د طبیعت پوښتنه اوکړي نو حمد ﴿7﴾ د پرنجي

(انترُشي) جواب ﴿8﴾ د خپل پرنجي (انترُشي) د حمد په جواب، جواب ورکول ﴿9﴾ په اَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ عمل ﴿10﴾ د كَلِّمُوا النَّاسَ عَلٰى قَدْرِ عُقُوْلِهِمْ خيال ﴿11﴾ ورومبے به ئې تلم بيا به ئې وايم ﴿12﴾ مُهَذَّبه لهجه، تاسو جناب--- ﴿13﴾ په خبرو كښې د مسكا سُنَّت ﴿14﴾ غير ضروري خبره نه ﴿15﴾ په زوره (د غصې په انداز) خبره نه ﴿16﴾ ټوقې نه ﴿17﴾ بے ځايه اعتراض نه ﴿18﴾ د مُخاطب په غُصّه باندې نرمي ﴿19﴾ "اوړدووم" به نه ﴿20﴾ كم الفاظ ﴿21﴾ دروغ، د دروغو مبالغې نه ﴿22﴾ بے سوچه په ښه باندې ښه كول نه ﴿23﴾ د دروغو تعريف او خوشامد نه ﴿24﴾ مُخاطب به په خاموشۍ سره اورم ﴿25﴾ خبره به ئې نه كټ كووم ﴿26﴾ د پوهيدو باوُجُود "ها؟" يا "جي؟" يا "څه مو اووئيل؟" يا په سواليه انداز كښې د سر خوځولو نه ډډه ﴿27﴾ د سياسي تبصرو او ﴿28﴾ د ترهګرو د بے ځايه خبرو نه ډډه ﴿29﴾ خوک چې موجود نه وي د هغه په منفي ذكر ټُنديدو سره د غيبت او تور په ستائينه باندې مُتوجّه ﴿30﴾ د غيبت چغلۍ كولو او اوريدو نه ډډه ﴿31﴾ ضرورتاً تُوبُوا اِلَى الله! ﴿32﴾ د نيكۍ دعوت ﴿33﴾ مخامخ كه چرې څه نا څه ممكنه وي نو په ليكلي شكل يا اشارې سره ﴿34﴾ د موضوع نه بدلې خبرې نه ﴿35﴾ د زړه آزارولو نه ډډه ﴿36﴾ په زيرې اومباركي ﴿37﴾ په خفګان باندې غمرازي ﴿38﴾ د نورو د پاره سلام ﴿39﴾ د دعائے مغفِرت بے حسابه مَدَني خواست دے ﴿40﴾ د رخصتيدو سلام-

## د كورونو (ودانو) په باره كښې اهم هدايات

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: ﴿1﴾ كله چې د قضائے حاجت د پاره ځئ نو

قبلې ته مه مخ کوئ او مه شا کوئ- ﴿بخاری،155/1،حدیث:394﴾ ﴿2﴾ ځوک چې د قضائے حاجت په وخت قبلې ته مخ او شا نکړي نو د هغه د پاره يوه نيکي ليکلے شي او يوه ګناه ورله ورانولے (ختمولے) شي- ﴿معجم اوسط،362/1، حدیث:1321﴾ که چرې د کور (ودانۍ) نقشې جوړولو په وخت معماران او جوړوونکي وغيره په ښه ښه نيتونو سره په لاندې ځينو خبرو عمل اوکړي نو ډير ثواب به اوګټي: ﴿1﴾ واش روم (غسل خانه) کښې د ډبليو سي ترکيب داسې پکار دے چې د کښيناستو په وخت مخ يا شا د قبلې نه 45 ډګرئ بهر وي او آساني په دې کښې ده چې رُخ د قِبلې نه په 90 ډګرئ وي يعني د لمونځ نه پس چې دواړه اړخونو ته سلام اړولو کښې چې کوم طرفته مخ کوئ په دغه دواړو اړخونو کښې يو اړخ ته د ډبليو سي رُخ اوساتئ- د فقه حَنَفي مشهور کتاب "دُرِّ مُختار" کښې دي: چې د قضائے حاجت او ميتيازو کولو په وخت قبلې طرفته مخ يا شاه کول ناجائزه کار او ګناه ده- ﴿درمختار،608/1﴾ ﴿2﴾ په فوارې لګولو کښې دې هم د دې احتياط نه کار واخستے شي چې دغه شان لَغړ (بَربَنډ) لامبلو والا کَس قبلې طرفته د مخ يا شا کولو نه بچ شي- اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: " په لَغړتوب (بَربَنډتوب) کښې قبلې ته مخ کول يا شا کول مکروه او د ادب خلاف کار دے-" ﴿فتاوٰی رضويه ،349/23﴾ ﴿3﴾ په بيډ روم (کمره يا کوټه) کښې د پالنګ ترکيب څه داسې پکار دے چې اوده کيدو کښې ښپې قبلې طرفته نه وي، کم نه کم 45 ډګرئ بهر وي- "فتاوٰى شامي" کښې دي: "د قسته قبلې طرفته ته ښپې غزَوَل مکروهِ تنزيهي دي-" ﴿فتاوٰی شامی ،608/1، 610ملخصا﴾ ﴿4﴾ بالفرض که چرې ډبليو سي يا فوارې يا د کټ پالنګ وغيره رُخ غَلَط وي نو بَربَنډتوب کښې د مخ يا شاه قبلې طرفته يا د اوده کيدو په وخت ښپې قبلې

ته خو نه دي، نو اِستِنجا کوونکي يا لامبو والا ګس يا اوده کيدونکي ته به د دې خيال ساتل وي چې هغه بَربَنډتوب کښې د قبلې طرفته مخ يا شا نکړي، دغه شان ښېې هم اونه غزوي-

## د نيکئ دعوت (مختصر)

مونږ د الله پاک ګنهګاران بنده ګان يو او د هغوئې د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان يو- يقيناً ژوند ډير لنډ دے، مونږ هر وخت مرګ ته نزدې کيږو، مونږ به ډير زر تياره قبر ته کوزولے شي، خلاصے د الله پاک په حکم منلو او د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې په عمل کولو کښې دے-

د عاشقانِ رسول ديني تحريک، "دعوتِ اِسلامي" يوه مدني قافله د ---------- نه ستاسو د علاقې جُمات--------- ته راغلې ده- "مونږ د نيکئ دعوت" ورکولو د پاره حاضر شوي يو- په جُمات کښې اوس درس روان دے، درس کښې د شرکت کولو د پاره مهرباني اوکړئ اوس تشريف يوسئ، مونږ ستاسو د بوتللو د پاره راغلي يو، راځئ! تشريف يوسئ! (که چرې هغوئې تيار نه وي نو اووائيئ) که چرې اوس نشئ راتلے نو د ماښام لمونځ هلته اوکړئ، د لمونځ نه پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د سُنَّتو نه ډک بيان کيږي، تاسو ته خواست دے چې بيان خامخا واورئ- الله پاک دې مونږ او تاسو ته د دواړو جهانونو خير راکړي- امين-

## د ټولو نه ښه څوک؟

يوه ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په منبر ناست وو چې يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: "يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خلقو کښې د ټولو نه ښه کوم ګس

دے؟" "اوئې فرمائيل: په خلقو کښې د ټولو نه زيات بهتره هغه کَس دے څوک چې د قرآنِ پاک زيات تلاوت کوي، زيات مُتقي وي، د ټولو نه زيات د نيکئ حکم کوونکے وي او د بدئ نه منع کوونکے وي او د ټولو نه زيات صِلَۀ رحمئ (يعني د خپلوانو سره ښه سلوک) کوونکے وي-" ﴿مسند امام احمد، 402/10، حديث: 27504﴾

## د عمامې (پټکي) په سر کولو ۱۷ مدني ګلونه

د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 6 فرامين: ﴿1﴾ د عمامې (پټکي) سره دوه رَکعَته لمونځ بغير د عمامې (پټکي) د 70 رَکعتونو نه افضل دے- ﴿الفردوس بمأثور الخطاب، 265/2، حديث: 3233﴾ ﴿2﴾ په ټوپئ باندې عمامه (پټکے) زمونږ او د مشرکانو ترمينځه فرق دے هر وَل چې مسلمان ئې په خپل سر تاوهي په دې به د قيامت په ورځ يو نور ورکولے شي- ﴿جامع صغير، ص 353، حديث: 5725﴾ ﴿3﴾ بے شکه الله پاک او د هغه فرښتې دُرُود ليږي د جُمعې په ورځ په عمامې (پټکي) والؤ باندې- ﴿الفردوس بمأثور الخطاب، 147/1، حديث: 529﴾ ﴿4﴾ د عمامې (پټکي) سره لمونځ د لس زره نيکو برابر دے ﴿الفردوس بمأثور الخطاب 406/2، حديث: 3805- فتاوٰی رضويه 220/6﴾ ﴿5﴾ د عمامې سره يوه جُمعه بغير د عمامې د 70 جُمعو برابره ده ﴿تاريخ ابن عساکر، 355/37﴾ ﴿6﴾ عمامې (پټکي) د عربو تاجونه دي نو عمامه (پټکے) په سر کوئ ستاسو عزت به زياتيږي او څوک چې عمامه (پټکے) په سر اوتړي د هغه د پاره په هر وَل يوه نيکي ده ﴿جمع الجوامع، 202/5، حديث: 14536﴾ ﴿7﴾ د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَۃُ المدينه د کتاب بهارِ شريعت حصّه: 16 ﴿312 صفحات﴾، په صفحه 303 باندې دي: عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ، چا چې د دې اُلټا عمل اوکړو (يعني عمامه (پټکے) ئې په ناسته اوتړلو او پاجامه ئې په ولاړه واغوندله) هغه به

په داسې رنځ اخته شي چې علاج به ئې نه وي (يعني طبيبانو ته به ئې د دوائي علم نه وي) ﴿8﴾ مناسب دا دي چې د عمامې (پټکي) وړومبے وَل د سر ښي طرف ته لاړ شي- ﴿فتاوٰی رضويه،199/22﴾ ﴿9﴾ د الله پاك د آخري رسول رحمةٌ للعالمين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مباركې عمامې شمله به عام طور د (مباركې ملا) په شا وه او كله كله به سيدها طرفته،كله كله به د دواړو اوګو ترمينځه دوه شملے وې، كينڼ [يعني ګڅ] طرفته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دے- ﴿اشعة اللمعات،582/3﴾ ﴿10﴾ د عمامے د شملے مقدار كم از كم څلور ګوتې او زياتو نه زيات (د ملا د نيمې پورې تقريباً) يو لاس (د لاس مينځنۍ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته يو لاس وائي) ﴿فتاوٰی رضويه،182/22﴾- ﴿11﴾ عمامه مخ په قبله په ولاړه تړئ. ﴿كشف الالتباس فى استحباب اللباس، ص38﴾ ﴿12-13﴾ په عمامه كښې سُنَّت دا دي چې دوه نيم ګزه نه كمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زياته وي او د دې بناوټ ګنبد نما وي. ﴿فتاوٰی رضويه،186/22﴾. ﴿14-15﴾ رومال كه چرې غټ وي چې دومره ولونه راشي كوم چې سر پټ كړي نو هغه عمامه (پټكے) شو او وړوكے رومال د كوم نه چې صرف يو دوه ولونه راشي تړل مكروه دي ﴿فتاوٰی رضويه 299/7﴾ ﴿16﴾ د عمامې (پټكي) كوزولو په وخت (بند بند يا د كيښودو په ځائے) دې يو يو وَل پرانستے شي- ﴿فتاوٰی عالمګيری، 330/5﴾ ﴿17﴾ حضرت علّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "دَسْتارِ مُبارَک آنْحَضرَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دَر اَكْثَر سَفَيْد بُوْد وَگاهے سِياه اَحياناً سَبْز- (د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمامه (پټكے) شريف به اكثر سپين، كله تور او كله شين وو-) ﴿كشف الالتباس فى استحباب اللباس، ص38﴾

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عمامې شريفې نوم

رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې عمامې شريفې له هم نوم ايښودے وو فَنا فِي الرَّسول حضرت علامه يوسف بن اسماعيل نَبهَاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عمامې شريفې نوم "سَحاب" وو کومه چې هغوئي حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته عطا کړې وه- ﴿وسائل الوصول الی شمائل الرسول، ص119﴾

شان کیا پیارے عمامے کی بیاں ہو یا نبی
تیری نعلِ پاک کا ہر ذرّہ رشکِ طور ہے

## د جُمات د امام د پاره ډير ګټه ور ۳۰ مَدَني ګلونه

د الله پاک د ډير خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: "په تاسو کښې ښه خلق دې اذان کوي او قُرّاء دې اِمامت کوي-" ﴿ابوداود، 242/1، حديث:590﴾ ارشادِ امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ: اسلام کښې لمونځ ډير اهم عبادت دے او د دې د ادا کولو د پاره ډير احتياط پکار دے تر دې پورې چې زمونږ علمائے کرامو تشريح فرمائيلې ده، "که چرې لمونځ په څينو وجو صحيح کيږي او په يوه وجه فاسد کيږي، نو هغه به فاسد ګرځولے شي-" ﴿فتاوٰی رضويه، 555/6 تسهيلاً﴾ نور فرمائي: "اِمام دې داسې کَس (مقرر) کړے شي د چا پاکي چې صحيح وي، قراءت ئې صحيح وي، سُنّي صحيحُ العقيده وي، فاسق نه وي، په هغه کښې چې هيڅ قسمه مُقتديانو کښې د نفرت پيدا کولو خبره نه وي، د لمونځ او د پاکئ د مسئلو نه خبر وي-" ﴿فتاوٰی رضويه، 619/6﴾

❁ د اسلام بهترين خدمت او د حلال رِزق حاصلولو يوه غوره ذريعه د جُمات ”امامت“ هم دے، خو خبردار! د بے پروائيئ په وجه د مقتديانو د لمونځ بوج دوزخ ته (امام) غورځولے هم شي، ځکه د پاکئ او لمونځ وغيره د ضروري مسئلو نه ځان خبرول او د هغې مطابق عمل کول لازمي دے- که ممکن وي نو د ”دعوتِ اِسلامي“ په عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه، محله سوداګران، زړه سبزي منډهئ کراچئ کښې (يا چرته چې شتون لري هلته) د امامت کورس خامخا اوکړئ- (اَلحمدُ لِلّٰه! د ”شعبۀ امامت کورس“ د لاندې د 5 مياشتو د اِمامت کورس“ او د 10 مياشتو ”قرآن لَرنِنګ کورس“ شروع کړے شوے دے-) ﴿1﴾ د ”بهارِ شريعت“ وړومبئ څلور حِصې اولولئ او ځان پرې پوهه کړئ، د ضرورت په طور د علمائے اهلِ سُنّت نه هم رهنمائي حاصله کړئ ﴿2﴾ په لمونځونو کښې چې کوم سورتونه او ذکرونه لولئ هغه خامخا چا سُنّي قاري صاحب ته واوروئ (د دعوتِ اسلامي ”تيسته مجلس“ ته ئې هم اوروله شئ) ﴿3﴾ که چرې مَعاشي پريشاني نه وي نو بغير د اُجرت نه امامت اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ستاسو د پاره دواړو جهانونو کښې د سعادت وجه ده-

**بغير د اُجرت نه د اذان او امامت فضيلت**: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د امام او مُؤذِّن د پاره د هغه ټولو برابر ثواب دے چا چې د هغوئ سره لمونځ کړے دے-“ (کنزالعمال، 4/239، حديث: 20370، بهارِ شريعت، 1/558) ﴿4﴾ د ډيرې سختې مجبورئ نه بغير د تنخوا زياتولو غوښتنه مناسب نه ده ﴿5﴾ د زياتې اړې (اُجرت) په لالچ بل جُمات ته تلل د يو امام سره بالکل نه ښائي ﴿6﴾ چې خومره درنه کيدے شي مخکښې تنخوا مه اخلئ بلکه د وړومبئ نيتې نه مخکښې هم تنخوا مه قبلوئ ځکه چې په ژوند هيڅ باور

نشته! ﴿7﴾ د سوال کولو، بلکه د قرض غوښتو نه هم ځان ساتئ ﴿8﴾ نن سبا بعضې
امامان او خطیبان خپل ځان ته صرف ”خطیب“ او بعضې مُؤذِّن صاحِبان ځان
ته ”نائب امام“ وائي او داسې وئیل خوښوي، د امامُ الانبیا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلام
ته ”امام“ او د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُؤذِّن حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دیوانا (په
هغوئي مئین) ته په ”مُؤذِّن“ وئیلو شرم نه دے پکار ﴿9﴾ د تقوىٰ جامې واچوئ- ګنې
نو د آخرت د نقصان سره سره به په دنیا کښې هم خلق په ستاسو بدګمانه شي ﴿10﴾ د
زیاتو خبرو، په بړق بړق خندا کولو او د ټوقو ټقالو سره عزت کمیږي، د مقتدیانو سره
ډیر زیات ګپ شپ هم مه لګوئ ګنې بیا به خپل مینځ کښې لحاظ ختمیږي ﴿11﴾ د
حُبِّ جاه (یعني عزت او مشهورتیا) نه ځان ساتئ، د مشهورتیا او عزت جوړولو په
خواهش او کوشش کښې صرف هلاکت او بربادي ده ﴿12﴾ د امام عاجزي خلق دین
ته د نزدې کولو د پاره ډیره ګټه وره ده ځکه د لمونځ نه پس د خلقو سره ملاقات کوئ، بیا
لږ ساعت هلته کښینئ هم خو د دنیا خبرې هیڅکله هم مه کوئ، صرف دیني خبرې
کوئ او هغه هم په مزه مزه، چې لمونځ کوونکي او نور خلق پریشانه نشي ﴿13﴾ کوم
امام چې عاجزي نه کوي، د خلقو نه لرې لرې اوسيږي یا صرف د خپلو ګیرو عمامو
(پټکو) والا سره ناسته پاسته کوي نو کیدے شي چې عام خلق د هغه امام نه لرې
اوتختي، او دا هم کیدے شي چې امامت وغیره کښې په سخت وخت راتلو د مرستې نه
محروم شي او بیا---- ﴿14﴾ د مُؤذن او د جُمات د خادمانو وغیره سره د محبت ډکه رویه
ساتئ، په هغوئي د حکم چلولو په ځائے د سعادت ګنړلو سره موقع په موقع د جُمات
صفائي وغیره پخپله کوئ، درئ هم پخپله غوړَوَئ، غیر ضروري لائټونه او پکي وغیره

هم پخپله بندوئ ﴿15﴾ د اوداسه د ځيونو وغيره په صفائيئ کښېې هم د خادِمانو سره مرسته کوئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير ثواب به درته هم ميلاويږي او د محبت ډکه فضا به هم جوړه وي ﴿16﴾ د جُمات د انتظاميې سره هيڅکله هم ګډ وډے مه پيدا کوئ (لانجې مه کوئ)، د هغوئي سره ښه سلوک کوئ او کوشش اوکړئ چې په هغوئي هره مياشت د دريو ورځو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنّتو (پخپله) د زده کولو او (نورو) ته د ښودلو مَدَني قافلو کښې سفر اوکړئ ﴿17﴾ د يو سُنّي امام او انتظاميې سره هيڅکله هم مه ورانوئ، په هغوئي د تنقيد کولو سره هغوئي د ځان مه مخالف کوئ، بالفرض که چرې ستاسو نه بے خيالي اوشي نو هم فوراً معافي اوغواړئ- آؤ! که چرې د چا شرعي غلطي وي نو ډير په نرمئ سره نيغ په نيغه د هغه اصلاح اوکړئ ﴿18﴾ د ګير چاپيره جُماتونو د اهلِسنت د امامانو او د جُماتونو د کميټيانو سره ښه تعلقات جوړ کړئ او هغوئي دعوتِ اسلامي ته ښه نزدې کړئ او د سُنّتو زده کولو او نورو ته د ښودلو مدني قافلو کښې پرې هره مياشت د دريو ورځو د پاره سفر کوئ ﴿19﴾ په جُمعو او اخترونو کښې د اعلىٰ حضرت "خطباتِ رضويه" لولئ - ("اسلامک ريسرچ سينټر" (دعوتِ اسلامي) دغه خطبې لنډې (مختصر) کړې دي او د "فيضانِ خطباتِ رضويه" په نوم سره ئې جاري کړې دي) ﴿20﴾ د جُمعې په ورځ عموماً اکثره لمونځ کوونکي د خطبې په وخت رارسي، داسې حالت کښې د خلقو د نفسياتو خيال ساتل ډير ضروري دي، مثلاً په وخت جَمع کول، په بيان کښې مناسبه د خوند مواد ورکول وغيره- بيان په آسانو او ساده لفظونو کښې پکار دے، عوامو کښې سخت مضمونونه مه چيړئ، دا روايت: كَلِّمِ النَّاسَ عَلٰى قَدْرِعُقُوْلِهِمْ (يعني " د خلقو د عقل مطابق کار کوئ-" ﴿مرقات، 9/373﴾ ) په نظر

کښې ساتئ، عموماً خلق د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم واقعات او کرامات په خوند سره اوري او که هغوئي ته سُنّت هم اوښودلے شي نو هغوئي به یک دَم رانزدې شي- د قبر او آخرت د تیارئ ذهن ورله هم جوړ کړئ، هر بیان د دعوتِ اسلامي د سُنّتو زده کولو او نورو ته د ښودلو مدني قافلو کښې د سفر په ترغیت که ختم شي نو مدینه مدینه- (خاص طور د دعوتِ اِسلامي ”د جماتونو د خاتګې د امامانو“ سره تعلق لرونکې امامان او خطیبان د ”هفته وارې رسالې لوستلو“ سره د جُمعې بیان کوئ) ﴿21﴾ د بیان، خطبې، دعا او صلوٰة او سلام وغیره د پاره سپیکر بند حالت کښې خُلې ته د وړاندې نه سم کړئ بیا ئې آن کړئ ګنې بیا به ”د کړ کړ“ ډیر ناخوښه شور په جُمات کښې راځي ﴿22﴾ د اهلِ سُنّت د عالمانو صاحبانو ترمینځه چې کومو مسئلو کښې اختلاف وي د هغې د بیانولو نه ډډه کوئ ﴿23﴾ که چرې تاسو صلاحیت لروونکې عالِمِ دین ئې نو هره ورځ د قرآنِ پاک درس د (کنز الایمان شریف، تفسیرِ صِراطُ الجِنان نه) او دغه شان د اهلیت لرلو شکل کښې د درسِ حدیث شریف شرف حاصل کړئ ﴿24﴾ په بیان وغیره کښې د ځان د پاره د عاجزئ الفاظو وئیلو په وخت په زړه غور اوکړئ که چرې هغه وخت زړه د عاجزئ نه خالي وي نو د عاجزئ په الفاظو تاسو خپل ځان د دروغو او ریاکارئ د ګناه نه څنګه بچ کولے شئ؟ ﴿25﴾ د درس او بیان نه مخکښې د تیارئ عادت جوړ کړئ ﴿26﴾ د دین د نورو کتابونو سره سره حُسّامُ الحَرَمَین، اِحیاءُ العُلوم،مِنۡهَاجُ العابدین وغیره هم د لوستلو په کتابونو کښې ږدئ ﴿27﴾ هره ورځ د فیضانِ سُنّت درس ورکولو یا د اوریدو سعادت حاصلوئ ﴿28﴾ ستاسو په جُمات کښې هفته واره علاقائي دوره ضرور پکار ده دې کښې تاسو پخپله هم شرکت کوئ، بیا ګورئ

چې ستاسو په جُمات کښې د سُنّتو ښکلې سپرلي راځي ﴿29﴾ هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنّتو زده کولو او نورو ته د ښودلو د پاره مَدَني قافله کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې برکتونه به پخپله اووینئ ﴿30﴾ هره ورځ د عملونو جاج اخستو سره د "نیکو عملونو" رساله ډکوئ او د هرې میاشتې په وړومبئ نیټه ئې د "شعبۀ اصلاحِ اعمال" یو ذمه وار اسلامي ورور سره جمع کوئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د پرهیزګارئ یوه نایابه خزانه به په لاس درشي او د عشقِ رسول ډک جامونه به مو نصیب شي-

## د قیامت د ویرې نه محفوظ خلق

د حضرت عبد اللّٰه بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ نه روایت دے چې د نور نمونې، د ټولو نبیانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "درې کَسان به داسې وي کوم چې به لویه ویره (یعني قیامت) اونه یروي او حساب به دوئ ته نه رسي، هغوئي به د مُشک په ډیرئ وي تر دې پورې چې مخلوق د حساب نه فارِغ شي- (وړومبے:) هغه کَس کوم چې د اللّٰه پاک د رضا د پاره قرآن اولولي او د هغې په ذریعه د خلقو امامت اوکړي او قوم هم د هغه نه رضا وي- (دویم:) د اللّٰه پاک د رضا د پاره خلق د لمونځونو د پاره رابلونکے (یعني مُؤذن)- (دریم:) هغه غلام چا چې د خپل رب او د خپل دنیا د آقا (مالک) معامله په ښه طریقې سره پوره کړه-" ﴿معجم اوسط، 6/425، رقم:9280﴾

## فضائلِ آفات او ۲۰ روحاني علاجونه

❁ د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې فرامین: ﴿1﴾ مسلمان ته چې کوم تکلیف،

بيماري، غم، پريشاني او درد هم اورسي تر دې پورې چې هغه غنه هم اوچيچي، الله پاک د هغې په سبب د هغه ګناهونه ورانوي (ختموي)- ﴿بخاری ، 4 /3، حدیث: 5641﴾ ﴿2﴾ د قيامت په ورځ چې به کله غم ځپلو خلقو ته ثواب ورکولے شي نو د عافيت سره پاتې شوي به آرمان کوي چې "کاش! چې په دنيا کښې د هغوئ څرمنې په قينچو کټ کړے شوې وے-" ﴿ترمذی، 4/180، حدیث: 2410﴾ ﴿3﴾ چا چې يوه شپه په بيمارئ کښې تيره کړه، صبر ئې اوکړو او د الله پاک په رضا رضا شو نو هغه د ګناهونو نه داسې اووتو لکه چې خنګه دا مور په دغه ورځ زيږولے وو- ﴿نوادرالاصول، 3/147﴾

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی تے میں سُکھ نوں چُلّھے پاواں

۞ رَحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اُمُّ السّائب خوا له تشريف يوړلو، اوئې فرمائيل: په تا څه چل شوے دے چې ريږيږې؟ عرض ئې اوکړو: تبه مې ده، الله پاک دې په دې کښې برکت نه اچوي- اوئې فرمائيل: تبې ته بد مه وايه چې دا د انسان خطاګانې داسې لرې کوي لکه څنګه چې بهټۍ د اوسپنې خيرے- ﴿مسلم، ص1068، حدیث: 6570﴾

۞ حضرت عطاء بن ابو رَباح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې حضرت ابنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته اوفرمائيل: آيا تاته زه جنت والا زنانه اونه ښائيم؟ ما عرض اوکړو: خامخا ئې اوښائيئ- اوئې فرمائيل: دا حبشي زنانه، کله چې دا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له راغله نو دې عرض اوکړو: زما "مِرګي" مرض دے د کوم په وجه چې زما سَتر يعني پرده پرانستے کيږي څکه د الله پاک نه زما د پاره سوال اوکړئ- ارشاد اوشو: که چرې ته غوارې نو صبر اوکړه او ستا د پاره جنت دے او که چرې غوارې نو زه د الله پاک نه ستا د پاره دعا غوارم چې هغه تا له صحت درکړي- نو هغې عرض اوکړو: زه به صبر کووم- زما پرده

پرانستے کیږي، د اللہ پاک نه سوال اوکړئ چې زما پرده نه پرانستے کیږي- بیا هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې د پاره دعا اوکړه- ﴿بخاری4/6،حدیث: 5652﴾

۞ د حضرت ضَحّاک رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه قول دے: څوک چې په هرو څلویښتو شپو کښې یو ځل هم په آفت یا غم او پریشانئ کښې اخته نه شي د هغه د پاره د اللہ پاک سره هیڅ خیر نشته- ﴿مکاشفۃ القلوب، ص15﴾

زما بیماره، بخت بیداره! تاسو اولیدل! بیماري او آفت څومره لوئي نعمت دے چې د دې په برکت اللہ پاک د بنده ګناهونه ورانوي (ختموي) او درجې ورله اوچتوي، بے شکه که مرض وي یا زخم، ذهني ټینشن وي یا ویره، خوب کم راځي یا نفسیاتي مرضونه، د اولاد له وجې غم وي یا د اولاد نه کیدو غم، رِزق فراخه نه وي یا د قرضې ډیر غټ بوج وي الغرض مسلمان ته په مصیبتونو ثواب میلاویږي، په هر حالت کښې د صبر نه کار واخلئ ځکه چې د صبر نه کولو سره خو تکلیف لرې کیږي نه اُلټا پکښې نقصان وي او هغه هم ډیر غټ نقصان یعني د صبر په ذریعه راتلونکے ثواب ضائع شي- یاد ساتئ! د ټولو نه خطرناکه بیماري د کفر بیماري ده او د ګناهونو بیماري هم ډیره خطرناکه ده- آفت او مصیبت او بیماري او پریشاني د خلقو نه پټول د ثواب کار دے- د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "د چا په مال یا ځان چې مصیبت راغلو بیا هغه، هغه پټ اوساتلو او خلقو ته ئې شکایت اونکړو نو په اللہ پاک حق دے چې هغه اوبخښي-" ﴿معجم اوسط، 214/1،حدیث737﴾

۞ حضرت شیخ سعدي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: یو ځل د دریاب په غاړه یو بُزرګ ناست وو، د هغوئي مُبارکه ښپه میږي اوچیچله او زخم ئې ډیر خطرناک شکل خپل کړو، خلق راجمع

شو او په هغوئي ئې زړه سوزولو- خو هغوئي فرمائيل، د اندیښنې هیڅ خبره نه ده دا خو د شکر مقام دے چې زما جسماني مرض نصيب شو، که چرې زه د ګناهونو په مرض کښې اخته شوے وے نو څه به مې کول! ﴿گلستان سعدی، ص60﴾

﴿1﴾ د رزق د پاره: يَامُسَبِّبَ الْاَسْبَاب 500 ځل، په اوّل او آخر کښې درود شريف 11، 11 ځل، د ماسخوتن د لمانځه نه پس مخ په قبله په اوداسه کښې سرتور سر په داسې ځائے کښې کښینئ او اولولئ ئې چې د سر او آسمان ترمینځه څه څيز نه وي، تر دې پورې چې په سر ټوپئ هم نه وي- اسلامي خوئيندې دې داسې ځائے کښې لولي چرته چې پرې د غير مَحرمه سترګې نه لږې- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د رزق تنګي به لرې شي- ﴿2﴾ يَااَللّٰهُ 101 ځل په کاغذ اوليکئ او د تعويذ جوړولو سره ئې په مټ اوتړئ، په جائزه کار او حلاله نوکرئ کښې به مو زړه اولګي- ﴿3﴾ د 7 ورځو پورې د هر لمانځه نه پس يَارَزَّاقُ يَارَحْمٰنُ يَارَحِيْمُ يَاسَلَامُ 112 ځل لولئ او دعا کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د بيمارئ، تنګ لاسئ او غريبئ نه به خلاصے بيامومئ- ﴿4﴾ د غلا نه حفاظت: يَاجَلِيْلُ (اے بزرګئ والا) 10 ځله اولولئ او په خپل مال او اسبابو او رقم وغيره ئې دم کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د غلا نه به محفوظ وي- ﴿5﴾ د واده د پاره: د کومو جینکو چې واده نه کيږي يا ئې کويژدن ماتيږي هغوئي دې د سحر د لمونځ نه پس يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام 312 ځل اولولي او د ځان د پاره دې د ښې رشتې دعا اوکړي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير زر به ئې واده اوشي او خاوند به ورته هم نيک ميلاؤ شي- ﴿6﴾ يَاحَيُّ يَاقَيُّوْم 143 ځل اوليکئ او تعويز ترې جوړ کړئ او پيغله جينئ دې په خپل مټ اوتړي يا دې په غاړه کړي د هغې واده به زر اوشي او کور به ئې هم ښه نصيب شي- ﴿7﴾ د نارينه اولاد د پاره: يَامُتَكَبِّرُ 10 ځل، د خپلې

ښځې سره د میلاویدو نه مخکښې اولولئ د نیک ځوئ پلار به جوړ شئ۔ ﴿8﴾ حامله زنانه دې خپله د شهادت ګوته د خپل نوم نه ګیر چاپیره تاوهې او یَامَتِیْنُ دې 70 ځله وائې۔ دا عمل دې 40 ورځې جاري اوساتي، د الله پاک په فضل به ئې نیک ځوي کیږي۔ دې عمل کښې د هر مرض علاج دے۔ چې هر یو مریض دا عمل اوکړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! شفا به ئې نصیب شي۔ (د نوم نه د کېږې لرې کولو ضرورت نشته، د کېږې د پاسه دا عمل کول دي) ﴿9﴾ د حاملې زنانه په خیټه د لاس ایښودو سره دې خاوند داسې وائي: "اِنْ کَانَ ذَکَرًا فَقَدْ سَمَّیْتُهُ مُحَمَّدًا۔ ترجمه: که چرې هلک وي نو ما د ده نوم محمَّد کیښودو" (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هلک به پیدا کیږي۔ که چرې د وئیلو په وخت د عربئ ژبې معنې په ذهن کښې نه وي نو د ترجمې د الفاظو وئیلو ضرورت نشته ګنې د ترجمې الفاظ هم اووائیئ) ﴿10﴾ **د دښمن نه د حفاظت د پاره:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په ګرځیدو، ناسته پاسته زیات لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دښمن نه به مو حفاظت کیږي۔ ﴿11﴾ **د ورک شوي انسان وغیره راپیدا کولو او هر حاجت د پاره:** د الله پاک په رحمت د مضبوط باور لرلو سره په ګرځیدو، په اودس کښې، بې اودسه ډیر زیات یَارَبِّ مُوْسٰی یَارَبِّ کَلِیْم بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم لولئ۔ په دغه وخت لږ درود شریف هم اولولئ۔ ورک شوے انسان، سره زر، مال، ګاډے وغیره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! راپیدا شي۔ بلکه د نورو حاجتونو د پاره هم دا عمل ګټه ور دے۔ ﴿12﴾ **د اثراتو روحاني علاج:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 41 ځل پخپله اولیکئ یا ئې په بل چا اولیکئ او د پلاستک کوټنګ کولو سره ئې په خرمن یا ریګزین یا کپړه کښې اوګنډئ او په مټ یا په غاړه ئې کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! اثرات به ختم شي۔ ﴿13﴾ **د جادو روحاني علاج:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 101 ځل اولولئ په چا چې جادو شوے وي په هغه ئې دم

کړئ یا ئې ېخپله اولیکئ یا ئې په بل چا اولیکئ او په اوبو کښې ئې د وینځلو سره اوڅکئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د جادو اثر به ختم شي- ﴿14﴾ **که چرې خوب نه درځي نو:** که چرې خوب نه درځي نو لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 11 ځل اولولئ او په ځان ئې دم کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! خوب به درشي- ﴿15﴾ **د کینسر روحاني علاج:** اوّل او آخر کښې 11 ځل درودِ ابراهیمي او په مینځ کښې "سورهٔ مریم" اولولئ او په اوبو ئې دم کړئ، د ضرورت په توګه پکښې نورې اوبه اچوئ، مریض دې هغه اوبه ټوله ورځ څکي، دا عمل د 40 ورځو پورې بلا ناغه (یعني په مینځ کښې ئې وقفه مه راولئ) اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! شِفا به ئې نصیب شي- (بل کس ئې هم لوستے او دمولے شي او مریض له ئې ورکولے شي) ﴿16﴾ **د تبې روحاني علاج:** یَاغَفُوْرُ په کاغذ درې ځله ېخپله اولیکئ یا ئې په بل چا اولیکئ، د پلاسټک کوټنګ کولو سره ئې په خرمن یا ریګزین یا کاغذ کښې اوګنډئ او په غاړه یا په مټ ئې اوتړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د هر قسمه تبې نه به خلاصے بیامومئ- ﴿17﴾ **د هیپاټائټس (یرقان) روحاني علاج:** هر ځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط سره "سورهٔ قُرَیش" 21 ځل (اوّل او آخر کښې 11 ځله درود شریف) ېخپله اولولئ یا ئې په بل چا اولولئ او د زم زم په اوبو یا په هغه اوبو کښې په کومو کښې چې د زم زم شریف څه څاڅکي شامل وي، دم کړئ او هره ورځ سحر، ماسپخین او ماښام ئې څکئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! په 40 ورځو کښې دننه دننه به مو شِفا نصیب شي- (صرف یو ځل دم کړے شوې اوبه کافي دي د ضرورت مطابق پکښې نورې اوبه اچوئ) ﴿18﴾ **د تریخي او مثاني د کانړې روحاني علاج:** لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 46 ځله په ساده کاغذ اولیکئ او په اوبو کښې ئې اووینځئ او اوئې څکئ د تریخي او مثاني کانړے به

اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! میده میده شي او رابهر به شي- (د علاج موده: د شِفا ترلاسه کیدو پورې) ﴿19﴾ د زړه او د سینې د بیمارو روحاني علاج: لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ 75 ځل اولولئ په زړه کښې د سورې والا ماشوم، دې سره سره د ویرې، زړه او سینې ټولو مریضانو په سینه ئې دم کړئ د الله پاک په فضل ګټه ور دے- ﴿20﴾ د هر قسمه مریض روحاني علاج: یَامُعِیْدُ دائمي (د ټول عمر) مریض دې هر وخت وائي، الله پاک به ورله صحت ورکړي-

## خپلو غاښونو ته په شیشه کښې ښه په غور اوګورئ

د نیکئ د جذبې د لاندې د ثواب په حِرص کښې عَرض دے چې که چرې ستاسو غاښونه خیرن یا زیړ وي نو په خوشحالئ سره د سګِ مدینه غُفِيَ عَنهُ له خوا ځیني مدني ګلونه قبول کړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! فائده وي-

❁ خیرن غاښونه د نورو خلقو د پاره کرکجن او د بوئې سبب وي ❁ په ملاقات کوونکي وغیره د خیرنو غاښونو والا د شخصیَّت اثر ښه نه پریوځي ❁ ډیر زیات پان ګټکې وغیره خوړونکي لکه چې پیسې ورکوي او د خپلو غاښونو حُسن تباه کوي، د خُلې پولئ او کینسر اخلي ❁ مسواک د سنَّت مطابق ښه سم د مړلو سره کوئ ❁ د خوراک نه پس په غاښونو کښې د خِلال (خُلې کنګالولو) معمول جوړ کړئ ❁ کله چې هم څه اوخورئ یا چائے وغیره اوڅکئ، نو یو چونګ اوبه د یو څو مِنټو د پاره په خُله کښې واچوئ او اړوئ را اړوئ ئې او دغه شان د خُلې دننه حصّه او غاښونه به تر څه حده پورې وینځلے شي ❁ د اوده کیدو په وخت حلق او غاښونه ښه سم صفا پکار دي، ګني په مرئ کښې به تکلیف او په غاښونو باندې به خیرے سم کلک اونخلي، په بنده خُله کښې د خوراک اجزا خرابیدو سره به مو د خُلې نه خراب بوئې ځي او د

جراثیمو خیټې ته د تلو سره به قسمه قسم بیمارۍ پیدا کیږي ۞ خوب کښې د خیټې سخا هواګانې بره الوځي څکه خُله بدبوداره شي، د پاڅیدو سره فوراً لاسونه وینځئ او مسواک اوکړئ او غړ غړې اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د خُلې سخا بوئي به ختمیږي۔

## غوره منجان

په مناسب مقدار کښې د خوراک سوډا او هغه همره مالګه په بوتل کښې یو ځائے واچوئ، غوره منجان تیار دے۔ که چرې مناسب وي نو هره ورځ په دې خپل غاښونه برش کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ډیر زر به د غاښونو خیرے په لرې کیدو اووینئ۔ فرض کړئ که چرې په اورو یا د خُلې په څه حصه کښې سوزیدل وغیره محسوس کړئ نو مقدار ئې کم کړئ او بیا ئې اوګورئ، که چرې بیا هم تکلیف وي نو بیا د صفائیٔ د پاره بله څه لار اوګورئ، غاښونه بهر حال صفا پکار دي۔

مدني ګل: هر قسمه صفائي سُنَّت او مطلوبِ شریعت ده۔

بدبو نہ دَہن میں ہو، دانتوں کی صفائی ہو — مہکائی دُرودوں کی مُنہ میں ترے بھائی ہو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار كښې كيدونكي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډكه هفته واره اجتماع كښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ښار ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح كوشش كول دي." إِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار "مَدَني قافِلو" كښې سفر كول دي. إِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (كراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com